د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت



راستنیدنه عودت
اونیز
هفته نامه

(۵۶) ګڼه غبرګولی ۱۴۰۴: شماره (۵۶) جوزا ۱۴۰۴: صفحه اول:لومړی مخ

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د پاکستان په کویټه ښار کې له افغان کونسل مولوي ګل حسن سره وکتل

په دې ناسته کې مولوي ګل حسن د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د افغان کډوالو د وضعیت په هکله وروستي معلومات له محترم مولوي عبدالکبیر سره شریک کړل او زیاته یې کړه، چې په بلوچستان کې له افغان کډوالو سره د پاکستان د نورو ایالتونو په پرتله د ناسم چلند پېښې کمې دي او په کویټه کې افغان استازولۍ هڅې کړې چې پر وخت د افغان مهاجرینو ستونزې د حل په موخه له پاکستاني لوري سره شریکې کړي.

په دې ناسته کې د پاکستان په بلوچستان کې د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل، د اړونده ادارو ترمنځ د همغږۍ په زیاتوالي او نورو اړوندو موضوعاتو بحثونه وشول.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، په پاکستان کې د افغان کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې د افغانستان د سفارت او کونسلګریو د مسوولینو هڅې وستایلې او یادونه یې وکړه، چې له هرې ممکنې لارې دې د مهاجرینو ستونزو د حل لپاره اقدام وشي. هغه وویل، چې په هېواد کې د راستنېدونکو افغانانو لپاره لازم چمتوالی نیول شوی؛ خو ټینګار یې وکړ چې له کډوالو سره د کوربه هېوادونو له لوري زور زیاتی د منلو وړ نه دی.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په جلاجلا ناستو کې د نورستان له والي محترم قاري زین العابدین عابد او د خوست د پوهنې له رئیس مولوي فیض الله جمال سره وکتل

په پیل کې د نورستان والي ښاغلي زین العابدین عابد په یاد ولایت کې د کډوالو وضعیت او د هغوی د وړاندیزونو په اړه محترم مولوي عبدالکبیر ته معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې په دغه ولایت کې مهاجرینو ته د اسانتیاوو چمتو کولو په موخه له اړوندو حکومتي او مرستندویه ادارو سره همغږي رامنځته شوې ده.

ښاغلي عابد، د نورستان د ولسونو د ستونزو د حل په برخه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وزیر د هڅو په یادولو سره وویل، چې علمای کرام او ولسونه د اسلامي امارت لخوا د هغوی د ستونزو د حل له امله خوښ دي.

دغه راز مولوي فیض الله جمال په خوست ولایت کې مهاجرینو ته د زده کړو د چمتو کولو پر څرنګوالي خبرې وکړې او په وینا یې، چې د کډوالو لپاره په ښوونځیو او مدارسو کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده. هغه وویل، له نړیوالو ادارو سره په اړیکه کې دي څو کډوالو ته د زده کړو په برخه کې لازمي اسانتیاوې رامنځته کړي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، اسلامي نظام او ولس ته د خدمت په برخه کې د امارتي چارواکو او مسوولینو د هڅو په ستایلو سره وویل، چې افغانانو د څو لسیزو جګړو او یرغلونو له امله ګڼې ناخوالې لیدلې دي او اسلامي امارت د ولس د هوسا ژوند لپاره هڅې کوي.

د محترم وزیر په وینا، افغان کډوالو ته اسانتیاوې چمتو کول د اسلامي امارت لومړیتوب دی او د مهاجرینو پر وړاندیزونو او غوښتنو به غور وشي.



## یک تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

یک تفاهم نامه های همکاری به ارزش ۳۱ هزار و ۹۴۳ دالر امریکایی با موسسه بین المللی شلتر ناو در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه یاد شده موسسه مذکور مبلغ یاد شده را در بخش توزیع مواد خوراکی برای ۶۵۵ خانواده بیجاشده در ولایت کابل به مصرف میرساند.



## په غزني ولایت کې راستنېدونکو کډوالو لپاره د ۲ نمبر ښارګوټي پرانیسته وشوه

دغزني ولایت مرکز کې د راستنېدونکو کډوالو لپاره د ۲ نمبر ښارګوټي پرانیسته د لوړپوړو چارواکو په ګډون وشوه، چې پکې شاوخوا ۶ زره جریبه ځمکه د کډوالو لپاره ځانګړې شوې او د استوګنې لپاره به په روڼ ډول ووېشل شي.

په دې مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني، د غزني والي ملا عبدالصمد جاوید او یو شمېر نورو چارواکو، قومي مشرانو او ځوانانو ګډون درلود.

په یادو مراسمو کې مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه: د ۶ زره جریبو ځمکې د وېش لړۍ به پیل او په شفاف ډول به کډوالو ته ووېشل شي.

د غزني امنیه قوماندان مولوي مخدوم محمدعالم وویل: دا د خوشالۍ ځای دی، چې هېواد مو خپلواک او امن دی او د کډوالو ستونزو ته به رسېدنه وشي. د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني وویل، هرې کورنۍ ته د غړو د شمېر له مخې ۵ تر ۱۵ بیسوې ځمکه ورکول کېږي.

د غزني د کډوالو چارو رئیس مولوي مطیع الله عرب

وایـي، تـر اوسـه ۲ زره او ۵۰۰ کورنـۍ ثبـت شـوې او لومړنـۍ اړتیـاوې یـې پـوره شـوې دي.



## والی ولایت بادغیس، با رییس مهاجرین ولایت بلخ، دیدار کرد

حافظ محمد امین جان عمری، والی ولایت بادغیس با مولوی اسدالله وفا، رییس مهاجرین ولایت بلخ، دیدار کرد.

در این دیدار که مولوی اختر محمد مزمل معاون والی ولایت لغمان و شیخ محمد اعزام رییس شورای علمای ولایت بلخ نیز حضور داشتند در زمینه کمک رسانی به مهاجرین و رسیدگی به مشکلات آنان صحبت نمودند و متعهد به ارایه انواع کمک ها شدند .

## په جوزجان او کابل ولایاتو کې سلګونو کسانو د کار وسایل ترلاسه کړل

په جوزجان او کابل ولایتونو کې ۵۸۰ راستنېدونکو کسانو او دسیمې اړمنو خلکو ته د کار وسایل وویشل شول.

یاد شوي کسان له دې وړاندې په فیض آباد، خانقاه او شبرغان ښار اوقره باغ ولسوالیو کې سروې او اړمن پېژندل شوي وو، چې د وزارت د همکارو بنسټونو له لوري د کار وسایل (بېل، کلنګ، واسکټ، دستکش او خولۍ) یې ترلاسه کړل.

دا مرستې د دریو میاشتو لپاره د پیسو په بدل کې د کار په نوم ورکړل شوې دي او د دې پروژې موخه راستنېدونکو او محلي خلکو ته د کار زمینه برابرول دي. د میاشتې په پای کې به هر کس ته ۵ زره او ۹۰۰ افغانۍ هم ورکول کېږي.



## به ارزش بیش از ۷ میلیون دالر، هزار باب خانه، در ولایت پکتیکا ساخته شد

یک هزار باب خانه در ولایت پکتیکا، به ارزش حدود ۷.۸ میلیون دالر امریکایی بعد از ساخت آن در ولسوالی گیان، به متضررین ناشی از حوادث طبیعی (زلزله) در آن ولایت تسلیم داده شد.

در محفلی که به همین مناسبت در آن ولایت برگزارشده بود مولوی حمد الله فاتح، رییس مهاجرین آن ولایت گفت: این خانه ها برای آسیب دیده گان زلزله در این ولایت توسط کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ساخته شده است که ساخت هر خانه حدود ۵ هزارو ۸۰۰ دالر امریکایی هزینه داشته و درمدت ۲ سال کار ساخت آن تکمیل شده و بر علاوه آن ساخت یک باب مکتب، شفاخانه، در این ولسوالی در حال پیشرفت است.

عرفات جمال رییس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان گفت: این سازمان مدت چهل سال است که در افغانستان فعالیت می کند و این کاررا برای افغان های بی خانمان ادامه خواهد داد.

مراسم یاد شده با تحویل کلید منازل به چند نفر و دعایه به پایان رسید.



## تورخم کې د افغانستان او پاکستان کمیسارانو ترمنځ د ستونزو د حل په موخه ناسته وشوه

د تورخم په فرضي کرښه کې د تورخم کمیسار، د ننګرهار ولایت محلي مسوولینو، د پاکستاني دولت استازي په ننګرهار کې د یاد هېواد قونسل، پوځي مسوولینو او د پاکستان له لوري د تورخم کمیسار په ګډون یوه ځانګړې ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې پکې د دواړو هېوادونو ترمنځ تجارت پراخولو، مریضانو او مهاجرینو ستونزو د حل او عامو وګړو ته د اسانتیاوو برابرولو په اړه خبرې وشوې.

همدا راز دواړو لورو په دې هوکړه وکړه، چې د سوداګرو لپاره ځانګړي موټر برابر شي؛ ترڅو په ارامۍ او اسانۍ سره تګ راتګ وکړي.

په پای کې دواړو لورو د همکارۍ او ستونزو د حل لپاره ډاډ څرګند کړ.



## برای ۱۶۸ تن در ولایت جوزجان، وسایل حرفوی کار، توزیع شد

برای ۱۶۸ تن برگشت کننده، بیجاشده طبقه ذکور و اناث در و لسوالی های فیض آباد، آقچه، خانقاه و مرکز ولایت جوزجان، وسایل حرفوی کار، توزیع شد.

افراد مذکور قبلاً در بخش های ترمیم موتر سایکل، موتر، موبایل، خیاطی، فلزکاری، قالین بافی، سلمانی و نل دوانی آموزش های فنی را در مدت ٤ ماه فرا گرفته بودند که پس از آن از جانب نهاد همکار این وزارت برای شان وسایل کار در بخش های مربوطه توزیع شد.



## صدها خانواده در ولایت ننگرهار جهت ترمیم سرپناه کمک نقدی دریافت کردند

۱۴۰۴/۲/۲۳

۳۲۰ خانواده برگشت کننده درولسوالی های کوز کنر، رودات، دره نور و بهسود ولایت ننگرهار، ، جهت ترمیم سرپناه، کمک نقدی دریافت نمودند.

خانواده های یاد شده که قبلاً از جانب ریاست مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند در دو بخش مبلغ ۱۹ هزار و ۶۰۰ افغانی، ۱۱ هزار و ۷٦۰ افغانی کمک نهاد همکار این وزارت را دریافت نمودند.

شایان ذکر است که خانواده های مذکور قبلاً نیز یک قسط پول کمک یاد شده را دریافت نموده بودند.

## په پکتیکا ولایت کې له ۲۰۰ زیاتو کورنیو سره مرسته وشوه

په پکتیکا ولایت کې د پاکستان له لوري ۲۲۷ جبري راستنو شویو کورنیو ته د غیر خوراکي توکو مرستې وویشل شوې.

یادې کورنۍ په یوسف خیل، زرغون شهر، جاني خیل، یحیئ خیل، سروبي، زیروک، ګومل، سرروضې ولسوالیو او د دغه ولایت په مرکز کې له دې وړاندې اړمنې پېژندل شوې وې، چې د وزارت د همکارو بنسټونو له لوري هرې کورنۍ ته د پخلنځي یو سیټ لوښي، ۳ دانې کمپلې، ۲ دانې ترپالونه او ۲ دانې د اوبو بوشکې پرې وویشل شوې.

## بیش از ۴۰۰ خانواده در ولایت جوزجان مساعدت شد

برای ۴۲۰ خانواده برگشت کننده اجباری در ولایت جوزجان، کمک خوراکی توزیع شد.

خانواده های مذکور قبلاً توسط ریاست امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند.

برای هر خانواده دو قلم مواد خوراکی کمک اداره مبارزه با حوادث توزیع شد